# آيا هغه ذات چې ده ته يې په دنيا کې وړتيا ورکړې ده چې په پښو وګرځي پدې قادر ندی چې په قيامت کې يې په مخ وګرځوي؟

قتادة رحمه الله وايي: حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَجُلًا قَالَ: يَا نَبِيَّ اللهِ كَيْفَ يُحْشَرُ الْكَافِرُ عَلَى وَجْهِهِ؟ قَالَ: «أَلَيْسَ الَّذِي أَمْشَاهُ عَلَى الرِّجْلَيْنِ فِي الدُّنْيَا قَادِرًا عَلَى أَنْ يُمْشِيَهُ عَلَى وَجْهِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟» قَالَ قَتَادَةُ: بَلَى وَعِزَّةِ رَبِّنَا. له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی، چې يو سړي وويل: اې د الله نبي، کافر به څنګه په مخ راپورته کيږي؟ هغه وفرمايل: « آيا هغه ذات چې ده ته يې په دنيا کې وړتيا ورکړې ده چې په پښو وګرځي پدې قادر ندی چې په قيامت کې يې په مخ وګرځوي؟» قتادة وايي، ولې نه! زما دې زمونږ د رب په عزت قسم وي.

[(صحيح] [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی]

له پيغمبر صلی الله عليه وسلم څخه پوښتنه وشوه چې کافر به څنګه د قيامت په ورځ په مخ راپورته کولی شي؟! نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: آيا هغه الله چې دی يې پدې دنيا کې په خپلو پښو ودراوه، پدې قادر ندی چې د قيامت په ورځ پر مخ وګرځوي؟! الله پر هر شي قادر دی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65068